# دامریکایي امپراتوری دپراخولو په خاطر، دبوش تروررستي ضد مبارزه یوه شومه بهانه او ناکامه وسیله

پیل

I. ترور څه او دتروریزم مفهوم څه دی؟

II. دتروریزم ډولونه او شکلونه

نتیجه

پیل

دنړیوالو نه پخلا کیدونکو او متضادو سیستمونو-کار او سرمایي-تر مینځ دمستقیم رقابت او مبارزی مؤقتی خاموشی ، دسویتیزم پر گونډو کیدل ،دملي جنبشونو ترمینځ پراگنده‌گی ، دبین المللی زحمتکښانو د نهضتونو عدم تمرکز ،د استثماري حریصانه خصوصیتونو شدت او داسی نورو سیاسی او اقتصادي عواملو ،دامریکایی انحصارگرانو خصوصاً د ډبلیو بوش اداري استعماري تلاښونه تر هر پخواني وخت نور هم داسي پراخ ،فعال او ټول اړخیزه کړل چي اوس غواړی په یوازنۍ توگه دنړۍ بازارونه تسخیر ، اومه مواد او ثروتونه خصوصاً دتیلو زیرمی تصاحب او مهمی ستراتژیکی سیمی لکه گران هیواد افغانستان ،خپلی کړی.

نوموړي احصارگران او واکداران د خپلو نویو تجاوزنو سره سم ،دجهاني کیدلو په نامه خپل استعماري فعالیتونه چي نوی رنگونه یی اخیستی دی په پراخه توگه تبلیغوی چي گواکي نړیوال باید ډیر ژر په هغه تنظیم کی ور ولی کوم چي د اولسونو او ملتونو د کار او زحمت گټه او ثمره ځیښبی او دمعاصری زمانی د مریتوب په ناوړو ښښو واښکیوبي تړی .

دلوړ ناروا هدف په خاطر بین المللی انحصاراتو د امریکا په لار ښودنه ، تر هر څه لومړی دناتو تجاوزگر تړون چي باید د ( وارسا تړون) تر پاشلو وروسته رسماً منحل شوی وای ، داسي فعال وساتۍ چي د امتیازاتو ورکولو په بهانه یی حتا یو لړ هغه واړه هیوادونه چي دپخواني شوروی اتحاد پر شا او خوا ورگرځیدلی وو په بیلو بیلو شکلونو ونزیرونو ور نژدی او طمعه داره کړل . په هم دی ډول یي حتا دروسیې جمهور رئیس ( پوتین ) ته هم د ناټو د شلم غړی په حیث دنولسو هیوادونو پر څنګ شلمه چوکی په داسی خندا آوره شکل ورکړه چي نه به د رأی حق لری او نه به هم د ناتو فیصلی ردکولای شی .

دی ډول چانسونو او د ماګو جیګو پلانونو،امریکایی واکداران د نورو وړو هیوادونو او ملتونو د تصرف او مریی کولو په خاطر داسی فعالیتونه پیل کړل څو د سیمو تر اشغالولو ورسته د ملتونو د ازادی غوښتنو هغه روحیات ورمات کړی کوم چي همیشه یی د خارجی تیری کونکو پر ضد د خپلو هیوادونو دساتنی په خاطر استفاده ځینی کوله او کوي یی .

د همدغه ډول علتونو پر اساس ، موږ وینو چي د نړیوالو اصولو او موازینو په خلاف یو لړ ازادی غوښتونکی هیوادونه لکه عراق ،سوریه ، ایران او داسی نور د"شرارت"مرکزونه وبلل شول او دتروریستانو په نامه تهدید کړی او تهدید وی یي .

غواړی دهمدغه ډول ملتونو اوولسونو طبیعی سرچینی خپلی او د خپلو تولیدی مؤسسو پاخه مواد په خپلوطلایی
او جابرانه شرایطو پر تحمیل کړی . په داسی حال کی چی نوموړی هیوادونه نه یوازی د اسلام مقدس دین دا
دملیونونو مسلمانانو دعقایدو او افکارو رهنما، دساتنی لپاره قربانی ورکړی او ورکوی یی بلکه دی یو لړ پر مخ
تلونکو او آزادی غوښتونکو نهضتونو مخکښان او سالارن هم دی . نوموړو ازادی غوښتونکو او ملی دولتونو
پخپل معاصر تاریخ کی د استعمار او امپریالیزم پر ضد داسی قانونمندی مبارزی کړی او کوی یی چی اوس یی په ډیر
ویاړ او افتخار سره تر سیوری لاندی د افتخاره ډك ملی او ډموکراتیك ژوند اختیار کړی او پرمخ یی وړی.
اوس په زړه پوری دا ده چی نن امریکایی انحصارات غواړی نه یوازی نوموړی مستقل هیوادونه بلکه ټول آزادی
غوښتونکی جنبشونه چی داستعمار او استثمار پر ضد مبارزه کوی ، دهغه تروریزم په نامه تهمتی کړی چی منبع او
اساس یی پخپله په امریکا او یو لړ مستبدو دولتونو په داخلی استبدادونو او وحشتونو پوری مستقیماً او عمیقاً
اړه لری . نن چی دبوش اداره خپل ځان دنړی یوازنی غښتلی قدرت بولی ، غواړی دتیرو لرغونو امپراتورانو په
شان ، دخپلو امپراتوریو دپراخولو دپاره داسی لارچاری ومومی څو په واسطه یی محروم خوبا همته اولسونه
اودولتونو ته تهدید ،کمزوره او مهار کړی . خو برعکس نوموړی لاری او تلاښونه نه یوازی په ملی ازادی
غوښتنکوجنبشونو او دولتونو کی دمنلو وړ ندی بلکه د ناتو دټرون اکثریت غړی یی هم متابعت نه کوی او کاملاً
دشك په سترگه ورته گوری . پر عراق باندی دامریکایی تجاوزگرانه حملو تهدید ، نه داچی نړیوال اولسی جنبشونه
په زغرده رد کړی او خنده اوره یی بولی بلکه د امنیت شورا قاطع اکثریت اعضاوو یی هم د بین المللی منشور د
اصولو او موازینو څخه څرگند مخالفت او تمردگنی . نو په هم دی ډول داستبدادی ضد او استعماری ضد
جنبشونه قانونمندی مبارزی په هیڅ صورت دهغه تروریزم مهفوم نه لری کوم چی یی امریکایی سیاستمدارن په
خپلو ذهنونو کی تراشی او د خپلو اغراضو دپراخولو دپاره یی دیوی پلمی په څیر استعمالوی.
تروریزم چی د پیړیو پیړیو را په دی خوا دجنگ او شرارت په مفهوم راغلی او زهرناکه نتیجی یی ډیر وختونه
د حاکمو طبقو له خوا ولسی جریانونه او مظلومو خلگو ته په بیلو بیلو شکلونو کی رسیدلی دی نن ورځ یی دبوش
اداره بی له دې چی یو نوی او ټاکلی تعریف ورته وړاندی کړای شی دمظلومو ملتونو او ولسونو له خوا بولی او
داسی غواړی چی دملتونو په مقابل کی د دوی هر تجاوزگرانه عمل باید بی له کوم جواب پاته وی ، که نه نو د
هغوی مقاومت ،مبارزه او هیوادپالنه باید ترور او وحشت وبلل شی!
یا للعجب !
اوس به دمسئلی دنور وضاحت او روښانتیا په خاطر لزوماً وگورو چی تروزڅه او تروریزم څه ته وایی؟
۱ـ ترور TERROR چی دجنگ ، خرابولو او تباهی راوړلو په خاطر تجاوزکارانه او کله هم د دفاع په خاطر یو
ټاکلی خوشونت آمیزه عمل دی ، په لغت کی ، بیری ، وحشت اچولو او مرگ راوړلو ته(۱) وایی خو په اصطلاح
کی :
الف ـ د زیاد وحشت او خطرونو هغه طرز دی چی مقابل طرف ورسره مخامخ کوی ، همداسی دجنگ اوشدت هغه
ډول او هغه شکل دی چی کله د تعرض او کله هم د دفاع په خاطر استفاده ځینی کیږی .
ب ـ په هم دی ډول دبیری او وحشتونو اچولو ټاکلیو شرایطو ته هم ترور ویل کیږی.
ج ـ دوحشتونو ، مرگونو او بیرولو ډول ډول مرکزونو ته هم ترور وایی .
د ـ دشیا نو او پیښو هغه حالتونه او تبلیغات هم ترور گڼل کیږی چی دټو لنی سیاسی واکداران او دکتا توران
خپل ا ولس د مرگ او بیری په خطر او تورتم کی اچوی او دوحشت سره یی مخامخ کوی.( ۲ )

لکه دبوش اداره چې دسپتمبردیولسمې څخه را وروسته په هره لحظه کې دامریکا پر خاوره د حملې او ترور کولو داسې تبلیغ کوی چې گواکې نن د سیندونو دسر پلونه دتروریستانو له خوا وهل کیږی ،په سبا کې د بمونو چاودنې کیږی ،د(انترکس)ویروس خپریږی ،او داسې نور .خو په عمل کې تر اوسه په امریکایې ټولنې کې دنومړو پیښنو څخه هیڅ واقعه پیښه نه شوه .د بوش اداره په نوموړی تبلیغ سره غواړی چې امریکایې اولس په بیره او وحشت کې وساتی ، خو البته پر دی بل اړخ فکر نه کوی چې دهمدغو بې ځایه تبلیغونو په نتیجه کې اولسونه خپل اعتماد او باور ورو ورو دلاسه ورکوی او د منلو اندازه یې ورکموی ، نوگواکې دغه ډول بیرونکې تبلیغ په خپله د ترور مفهوم منعکسوی.

۲. تروریزم TERRORISM چې په لاتینې ژبه کې دوحشت او بیرې عملونو او فعالیتونو ته وایی ، خو د نن ورځې په اصطلاح کې دترور کولو او وحشت اچولو هغه سیستم دی چې یوازی د تجاوز په خاطر نه استعمالیږی بلکه د دفاع په خاطر هم استفاده ځینې کیږی.

تروریزم دترور،وژنې ، تبنتولو ، بمونو چاودنو،اختطاف کولو او داسې نورو ناوړه عملونو شکلو نه دی چې اکثراً په پټه او بې له کومې مخ کنې لیدنې څخه دحکومتونو،گروپونو ،موسساتو او اشخاصو له خوا اجرا کیږی . خو ډیر وختونه یې محتوا سیاسی وی. دتروریزم څخه کله دکین لاس انقلابیون خو کله هم دښې لاس فعالیون په یوه ټاکلې ،خو سیاسې چو کاټ کې استفاده کوی او کړی یې ده .

دتاریخ په اوږدو کې ډیر تجاوزگرانو او وحشی دولتونو او قدرتونو نه یوازی فزیکی ترورنه او مرگونه انجام کړی ، بلکه روانی او روحی شکنجې یې هم د غیر انسانی اعمالو یو روښانه نمونه ده . دلرغونی یونان مشهور مؤرخ او فیلسوف زنوفان (٣) ډیر وختې لا دسیکالوجیکی او روانی فشارونو منفی تاثیرات د دښمن پر روحیاتو باندی مطالعه او لیکنې یې پر کړی دی . د لومړی میلادی پیړۍ په منځنیو کې د روم امپراتورانو ډیر مرگونه وکړل ،دخلگو ملکونه یې غصب او بندی خانی یې ځکه په بندیانو ډکې کړی ،څومخالفین یې قدرت ته په سپکه سترگه ونه گوری .

په منځنیو پیړیو کې هم چې په اروپا کې د تاریکو پیړیو په نامه یادیږی ، ډیرو مذهبی قدرتونو او دولتونو په مختلفو وختونو کې ډیر خلك په دې سبب شکنجه او ترور کړل چې گواکې کلیسایې اصولو ته یې په سپکه سترگه کتلې دی (۴ )

دفرانسې د بورژوازی انقلاب په دوران کې فرانسوی واکدارانو هم د انقلاب دپر مخ بیولو په بهانه ډیر ترورونه او وحشتونه انجام کړل . دغه ترورونه د(ژاکو بین) او (روبسپیر)او دا هغوی دنماینده گانو پر عملونو او په خاصه توگه پر هغه تربیون باندی اطلاق کیدل چې وحشتونه یې کول . خو زمانه یې د «ترور» په زمانې سره یاده شوی ده (۵) . په همدې ډول دفرانسې د انقلاب هغه دوره چې د(۱۷۹۳)م کال د مارچ دمیاشتې څخه بیا د (۱۷۹۴) کال تر جولای پوری اوږدوالی لری ، نه یوازی د « ترور او وحشت زمانه » گڼل شوی ده بلکه د « سره ترور» په نامه یې هم داسې یاد شوی دی چې انسانان صرف نظر د ښځې او نر ،زاړه او واړه ، ټول تر دار او ترور لاندی ووه . دهمدغه وخت ظلمونه او وحشتونه دومره سخت وو چې حتا وروسته به ، کله کله ـــ د قدرت څښتنانو پرخپلو وحشیانه اعمالو پښیمانې هم څرگندوله . دترور په دغه زمانه کې یوازی دوه سوه زره انسانان چې تر شك لاندی وو بندیان شول ، «۱۷۰۰» تنه اعدم او په سلگونو نور په بندیخانو کې مړه شول (۶) . دی ټولو حالتونو زموږ په گران هیواد کې هم خپل مخونه په بیلو بیلو وختونو کې ښکاره کړی دی چې په ورسته لیکنو کې به یې وگورو.

په هر صورت کا څرگنده ده چې ترور او تروریزم یوازی د څو محدودو اشخاصو او گروپونو هدفمند او یا غیر

هدفمند عمل ته دی ،بلکه دیو لړ حاکمو قدرتونو او دولتونو هغه پټ او ښکاره ناروا او متجاوز عمل دی چی همیشه یې د خپلو شخصی ،سیاسی او طبقاتي ګټو د تامین په خاطر انجام کړی او انجاموي یې . البته دغه عمل چی په جنګ او طبقاتی مبارزو کی د واکدارانو د ظلم او وحشت یو څرګند شکل دی نه یوازی د تیری ښتنان استفاده ځینی کوی بلکه ځینی وختونه محکوم اولسونه هم د خپلو آزادیو او حقوقو دساتلو او دفاع په خاطر کار ځینی اخلی .

د انګلیسی تجاوزاتو او استعماری وحشتونو پر ضد ډیرو ملتونو او ولسونو مبارزی کړی او کوی یی ، په هیڅ صوورت هغه تروریستی تلاښونه نه منعکسوي کوم چی امریکایی واکداران تبلیغوی .

چی ډیر لیری ولاړ نه شو ،د انګلیسی واکدارانو پر ضد د ایرلیند د خلګو مبارزې چی ډیر اوږد تاریخ لری ،د همدغو خلګو د مبارزو قانونیت او اصولیت څرګندوی په شمالی ایرلیند کی چی د مبارزاتو زیات ډلونه او مبارزینو زیات ګروپونه فعال دی ، خو دوې متضادی ډلی یی د جنګ او مبارزی پر میدان تر بل هر چا زیاتی ښکاری . یوه ډله چی پروتستانت دی د اتحادیو د مدافعینو له خوا یی ملاتړ کیږی او په څرګنده سره وایی چی ایرلیند باید د انګریزانو مستعمره پاته شی ( ۷ ) . د پروتستانت نوموړی ګروپ د خپل ملی ضد پراتیك په خاطر دهر ډول شدت او ترورونوڅخه استفاده کوی ، خو په مقابل کی یی هغه ملتپال او ناسیونالیستان د ایرلیند د ازادی د پاره جنګیږی چی د کاتولیك والاو له خوا هم همایه کیږی . دوی د ډیوی پخوا زمانی څخه د ایرلیند د بشپړی آزادی بیرغ پورته کړی دی .

شمالی ایرلیند چی یو نیم میلیون په شاوخوا کی نفوس لری د انګریزانو او جنوبی ایرلیند په مقابل کی د منظم جنګ پوره توانایی نه لری ، خو د غیر منظم جنګ په مختلفو شکلونو کی یی ډیری مبارزی کړی او ډیری قربانی یې ورکړی دی . تقریبا د (۱۲) کلونو په مده کی یی (۲۱۶۹) تنه دجنګونو په میدان کی وژل شوی ، ۲۶۷۵۰ تنه ویشتل شوی ، او ۱۰۶۰۰ بمونه چاودلی او منفجر شوی دی (۸) ، چی ګواکی نتیجتاً ډیر تاوانونه دواړو خواوو ته ور رسیدلی دی . د شمالی ایرلیند د مبارزو خلګو د ملی مبارزاتو په برخه کی « جان ایم فیهن » د ایرلیندمشهور مبارز او لیکوال داسی وایی : «دغه IRA جنبش په هیڅ ډول بله چاره او لاره نه لری څو خشونت استعمال نه کړی او د خپلی آزادی لپاره قربانی ورنکړی .» ( ۹ ) په همدی ترتیب ډیر وختی لا په کال ۱۹۸۱ م « دینی موریسین » په ډیری دلاوری سره په یو تقریر کی په لوړ آواز د خپلی ملی او سیاسی غو ښتنی داسی تایید کړی دی : « موږ سوله غوښتنکی خلك یو ، زه تکراروم چی موږ سوله غوښتنکی خلك یو ، خو بیله کومی بیری دا حقیقت هم باید ووایو چی موږ د پنځوسو کلونو راپه دی خوا تر ډیر فشار او تبعیض لاندی یو ... نو اوس دا نه کومه ګناه اونه هم کوم اخلاقی جرم دی چی موږ د هغه چا پر ضد ډبره را پورته کړو ، بمونه ښخ او چاړه استعمال کړو کوم چی زموږ خلك تر ظلم او فشار لاندی ورولی . » (۱۰)

نوموړی ازادی غوښتونکی جنبش چی د خپلو ملی ارمانونو په خاطر جنګیږی ، د خپل پر مختګ له پاره د هری موثره وسیلی څخه استفاده کوی . د نوموړی جنبش ټول باخبره غړی په هم دی خبره باوړی دی چی دوی به دخپل هغه فشار اُظلوم پر ضد په خپل ټول توان وجنګیږی کوم چی د دوی پر اوږو د کلونو ،کلونو څخه پروت دی .

په هم دی توګه دفلسطین قهرمان ملت پر ضد د اسرائیلو ترور ، وژنه او خرابونه چی امریکایی انحصارات یی حمایه کوی د دولتی ترور یوه بله ډیره څرګنده او روښانه نمونه ده . دنړی ټول سوله غوښتونکی ا ولسونه د بوش- شارون تروریستی عملیات د فلسطین غښتلی اولس پر ضد یوه داسی غیر انسانی پروسه بولی چی جهانیان یی باید ژر تر ژره چراخوالی مخه ونیسی ، څو فلسطینیانخپلو قانونمندو ارمانونو او ازادی ګانو ته ورسیږی ، او د هیواد څخه یی خارجی اشغالګران ووزی چی نه به یوازی په منځنی ختیځ کی سوله ټینګه بلکه دنړی د سولی امیدونه به هم ډیر شی .

نوموړی ډول انقلابي او قانونمندي مبارزې په هر شکل چې وي ، ځکه یې محتوا قانونیت لري چې ملتونه د خپلو ملي ګټو ،فرهنګونو ، تاریخونو او ډیموکراتیکو ازادۍ ګانو په دفاع کې سرونه ښندي او په قهرماني سره ګامونه اخلي . البته په هیڅ صورت سره نوموړي د هیواد پالنې تلاښونه د ترور هغه مفهوم نه ورکوي کوم چې یې د بوش اداره په دښمني سره تبلیغوي .

په هر صورت ، اوس دا څرګنده ده چې ترور او تروریزم یوازې د یو څو نا آرامو او انتقام غوښتنکو اشخاصو او ګوندونو کار نه دی ، بلکه د یو لړ حاکمه قدرتونو او دولتونو هغه ناروا او متجاوز عمل دی چې همیشه یې د خپلو شخصي او طبقاتي ګټو د تامین په خاطر انجام کړي او انجاموي یې. څرګنده ده مخکې مو هم اشاره وکړه چې ترور او وژل چې د جنګ او طبقاتي مبارزو په دوران کې د واکدارانو عمده خصوصیت دی ، ځیني وختونه محکوم ملتونه هم د خپلو حقوقو د دفاع په خاطر استفاده ځیني کوي .

اوس چې مو ترور او تروریزم د ظالم او مظلوم د دواړو له خوا وباله ، نو بیله شکه چې همدغه د خشونته څخه ډک عمل د طبقاتي مبارزو په مختلفو مرحلو او حالتونو کې بیل بیل شکلونه اخیستي او اوس یې هم په مختلفو ډولونو کې د ختیځ څخه تر لویدیزه ، د شماله تر سهیله پوري په ډیر وضاحت سره لیدلای شو.

ډیره په زړه پوري لا دا ده چې د قدرت څښتنان او امپریالیستي واکداران چې هر ډول وحشت ، بمباري ، جنایتونه او ترورونه وکړي ، ملتونه او هیوادونه تر پښو لاندې کړي ، بیا یې د ترور ضد عمل په داسې حالت کې بولي چې نه یې خپل خلك ورسره مني او نه یې بیګانه ګان . اما برعکس کله چې اولسونه او ملتونه او د هغوی قهرمانان د خپلو حقوقو دفاع وکړي ، پټ او ښکاره دخپلو ملتونو دخلاصون او بهبود په خاطر قرباني ورکړي ، بیانو امپریالستي تبلیغات او مطبوعات هغه ته د ترور لقب ځکه ورکوي چې د استعماري او امپریالستي ظلمونو ، وحشتونو او غلام کولو پر ضد وي ، لکه چې وایي : « دزورور اوبه پر لوړه خیژي . »

## III. دتروریزم ډولونه او شکلونه

اوس چې مو د ترور او تروریزم د مفهوم او تاریخ په باب په لنډه توګه یادآوري وکړه ، لازمه ده په تشکیلاتي او شکلي لحاظ یې هم یادونه وکړو :

۱ ) دولتي ترور

دا هغه ترور او وحشت دی چې تر یوې ټاکلې نخشې او پلان لاندې یې دولتونه د خپلو مخالفینو پر ضد په بیلو بیلو شکلونو او ډولونو کې تنظیم او اجرا کوي . البته دغه ډول ترور نه یوازې ارتجاعي او امپریالستي واکداران د خپلو ناوړو اغراضو په خاطر عملي کوي بلکه په پخواني شوروي اتحاد کې جوزف استالین هم وکولای شوای چې تروتسکي د خپلو ګوندي حریفانو په سلسله کې د مهاجرت په حال کې ترور او له منځه واخلي .

د دغه دولتي ترور د شوم هدف په خاطر د کیوبا مشر فیدل کاسترو ته هم د ده د داخلي او خاصتاً خارجي دښمنانو له خوا ډیر تروریستي پرګرامونه او دسیسې جوړې شوې چې هره یوه یې په خپل نوبت خپلو خلګو او اولسونو د ډیرې وفاداري پر بناً له مینځه وړې او شنډې کړې دي . په هم دې سلسله کې دا په زغرده ویل کیږي چې امریکایي ځیني واکدارانو د جهان ډیرو خطرناکو تروریستانو ته ځای ورکړی او ساتلي یې دي چې په خپلو ټاکلیو وختونو کې یې استفادې ځیني کړي او کوي یې . «د شهروند » اوه ئیزه ، دامریکایي معتبرې خپرونې « منتلي ریویو » په حواله لیکي چې امریکا د «هایتي » مشهور تروریست ( امانویل کنستانت ) ، دکیوبا او یو لړ نورو هیوادونو تروریستان یې هم په خپله خاوره کې ساتلي او تربیه کړي دي . په هم دې ترتیب نوموړې خپرونه

اضافه کوی چی د(هنری کسینجر)تروریستی روزنه په امریکایی ښوونځی کی زیات شهرت لری . (۱۱)
د هم دغه دولتی تروررونو په لړ کی د اسرائیلو ناروا او ظالمانه تروررونه چی د بیوزلو او ناوسه فلسطینیانو په مقابل کی د امریکا په ملاتړ اجرأ کیږی ، هیڅکله به یې تاریخ هیر نه کړی . په نوموړی شکل سره دولتی تروررنه نه یوازی دپرون په تاریخ کی زیات لیدل کیږی ، بلکه د نن ورځی په پراتیك کی هم د استکبار دولتونه د ترورد لاری څخه خپل حریف له پښو اچوی .

۲ ) گروپی یا گونډی تروررونه :
گروپی یا گونډی تروررونه د دولتی تروررونو په شان وحشتونه او مرگونه د خپلی ټاکلی توانمندی او پلانگذاری له مخی تأ مین او انجاموی . د هم دغه گروپی ترور له مخی یو لړ اشخاص او گروپونه د خپلو ارمانونو د تحقق په خاطر وحشتونه اچوی او داسی خرابونکی اعمال پر مخ وړی ، څو ټولنه نا ارامه او دولت یی بی ثباته کړی . دا چی دوی دغه عمل منفی بولی که مثبت ، گټه ور ورته ثابتیږی که زیانمن هغه د همدغو گروپونو په ارمانونو، پراتیکونو او عملونو اړه لری ؛ په هغو پلانونو او نقشو پوری ارتباط مومی چی دوی یی په خپلو مینځونو کی ترتیب او تنظیموی . څرگنده خو لادا ده چی دغه گروپی او ډله ییز ترور او وحشت ځینی وختونه ځکه انجامیږی چی نوموړی گروپونه او فعالین یی د خپلو سیاسی او علنی فعالیتونو د پاره کومه لاره او زمینه نه وینی او یا هم د دغی لاری څخه کوم څرگند بری نه ورته بریښی . نو فکر کوی چی له همدغه خشونت امیزه پراتیك څخه خپل هدف ته ځان رسولای شی .
استعماری او ارتجاعی تروررونه او وحشتونه چی د ملی او مترقی دولتونو او گونډونو پر ضد وی په دی سبب حمایه کیږی څو نوموړی دولتونه اوگوندونه ناتوانه او بی ثباته کړی .
دمثال په توگه ، د سردار محمد داود د جمهوریت په وختونو کی د ده د کابینی یو غړی ،(خرم/ د پلان وزیر هم په دی سبب ترور شو څو دولت د بی ثباتی سره مخامخ کړی ، همداسی د(بن لادن)چی په را وروسته کی د القاعدی تروریستی سازمان رهبر وبلل شو ، په ذریعه چی په ښکاره توگه د امریکایی ، پاکستانی او نورو گروپونو او قوتونو بشپړ ملا تړ ورسره و ، ډیر افغانی شخصیتونه د ښوونکو څخه نیولی تر ډاکټرانو پوری ، د سیاستمدارانو څخه تر ملی ، مذهبی شخصیتونو پوری ( لکه په کندهار کی خطیب آخندزاده او عبدالخالق آخندزاده)او داسی نور په شپه او ورځ ترور او په بیرحمی سره یی ووژل . د همدغه وحشت په دوران کی امریکایی واکدارانو نه دا چی د نوموړی وحشت غندنه ونه کړه ، بلکه برعکس یی د نوموړو وحشتونو او مرگونو له پاره په ټوله معنی مرستی ورسره وکړی او لارښوونی یی ورواندی کړی . په ملیونو او ملیاردونو ډالرونه یی دخرابونکو اعمالو په خاطر مصرف کړل او هم یی په سپینه ورځ په کندهار ښار کی ، مسافر وړونکی الوتکی د ( ستنگر ) مشهورو راکټونو په واسطه ویشتل کیدی . څه وخت چی د مجاهدینو ( ! ) په واسطه تروررونه او مرگونه کافی وبلل شول او د طالبانو په واسطه په اسانی سره د میدانه گوښه کړل شول ، بیا نو طالبان د نوی سیاسی قدرت په څیر داسی پر ډگر راکښنته او داسی ازمایښت ته راوړاندی شول چی باید د خپل ټول وحشت سره یوځای امریکا او غرب په گټه نخشی عملی کړای شی . خو ځکه چی دی نوی قدرت د نوموړو نخشو د پوره عملی کولو توان ونه ښودلای شوای بیانو د نخشو څښتنانو خپل حضور په مستقیمه توگه د سیمی د تسخیرولو په خاطر رامنځ ته کړ ، نویی نه یوازی د طالبانو پر ضد مبارزه پیل کړه بلکه د(بن لادن)چی د دوی تربیه شوی رکن ؤ او کورنی پر ضد یی داسی تبلیغات پیل کړل چی گواکی دوی ټول تروریستان او وژونکی دی . خصوصاً د نیویارك د تاوررونو دوهلو څخه وروسته امریکایی غیر انسانی تجاوزات ، د افغانانو پر ضد ، دطالبانو او لادن په بهانه داسی پراخ شول څو په پای کی یی خپلی خپلی لښکری د بین ا لمللی قوانینو په خلاف د افغانانو پر پاکه خاوره پیاده او د مرکزی

آسیاد طبیعي ثروتونو او ستراتیژیکو برخو ته یې په ډیرهٔ اسانۍ سره ځانونه ورسول . هغه وخت چې بن لادن او ملګرو یې ( مجاهد او طالب ) دتیر دولت غریب معلمان ، روشنفکران ، او ملي مبارزین یو په بل پسې وژل او ترورول ، په هغه وخت کې بن لادن مجاهد (!) قهرمان او د اسلام غاور و ، خو کله چې استعماري ځواکونو د امریکا په لاربنوونه د اشغال نوی غوښتنې رامنځ ته کړې ، بیانو نه یوازې طالب او بن لادن تروریستان او جنایتکاران وبلل شول بلکه ټول هغه مبارز وطنپال چې د خاوری آزادي او بیګانه ګانو ایستل غواړې ، تروریست بلل کیږي او په مرګ پسې یې ګرځي .

باید وویل شي چې د معاصرې زمانې تروریستي اعمال په لومړی سر او اساس کې غربي او خاصتاً امریکایي انحصاراتو کې موقعیت لري چې د مځ پر انکشافو هیوادونو ، په خاصه توګه د لاتیني امریکا په چپو ، وطنپالو او قهرمانو اولسونو او ګوندونو کې یې د مرګه ډک تاثیرات او ځوان مرګي پرې اینبي دي .

په تیره پیړۍ کې د کانګو هیواد چې خپله آزادي یې دقهرمان لوممبا په رهبری سره واخستله ، ومو لیدل چې ډیر ژر د هغه د ترور او وژلو امر صادر او ووژل شو . د هغه ټول دموکراتیك او وطنپال رفورمونه د ده د ځوانې مرګۍ سره یوځای ځوانیمرګ شول .

ډاکټر مصدق چې د ایران مترقي او وطنپال صدراعظم و ، د خپلو تیلو د ملي کولو په خاطر د امریکایي - انګلیسي چالونو او دسیسو په نتیجه کې بندي او بیا د خپلو وطنپاله شهیدانو په څنګ کې د تل له پاره آرام پریوت .

دچلي هیواد د ډیرو غښتلو او ملي شخصیتونو څخه ( سلوادور الندی ) استعماري جبارو واکدارانو په نخشه او لاربنودنه د جنرال پینوشې په واسطه په وینو ورنګول او مړ شو ، او همداسي یې په زرګونو وطنپال طرفداران هم تر تیغ ور تیر کړل . په دغه ډول سره ګورو چې په اندونیزیا کې هم مشهور جلاد سوهارتو په واسطه د ملي قهرمان « سوکارنو » اود ده دزرګونو زرګونو وطنپال طرفدارانو عمومي وژنه د سوهارتو د استعماري او امپریالیستي بادارانو له پاره یو د شرمه ډك او غیر انساني عمل دی .

یادونه یې په کار ده ، کله چې د شلمې پیړۍ د لومړنۍ نیمایي په اخیر کې دوهمه نړیواله جګړه د فاشیزم او هټلر په ماتې سره پای ته ورسیده ، ومولیدل چې د ژوند هغو شرایطو تغیر ونه موند کوم چې د مبارزو قهر آمیزه شکلونه او تاکتیکونه له مینځه اخلي . دا هم ځکه چې هم دغه ډول مبارزې د جنګ یو ډیر عمده شکل او دطبقاتي مبارزې د خشونته ډك عمل دی . ځکه څرګنده شول چې د فرانسې په مقابل کې د الجزایر د آزادۍ مبارزې چې د قهرماني څخه ډکې وی نه یې یوازې فرانسوی استعمار چیان له ملکه وایستل بلکه وروسته یې امریکایي تجاوزګران د هغوی د وارثینو په حیث سخت پر ګونډو کړل خو خپلې خپلواکۍ ته ورسیدل . دا ټولې د مقاومت ډکې مجادلې او فعالیتونه که څه هم یې استعماري واکداران ، نن ورځ تروریستي بولي ، خو بیله شکه چې د قهرماني ډکې ملي آزادي بخښونکې مبارزې دی . البته د دې لاری مبارزین نه یوازې د آسیایي هیوادونو او لاتین امریکا د جنبشونو په نصیب دی بلکه ، توره افریقا هم هغه هیوادونه تشکیلوی چې دخپلو ملتونو دازادی په خاطر یې قربانۍ ورکړې او قهرمانۍ یې پرااینبي دي .

دا هم روښانه ده چې آزادي بخښونکې ، دموکرات او انقلابي غورځنګونه نه یوازې په ورسته پاتې هیوادونو کې بنسټونه او فعالیتونه لري بلکه پر مخ تللو او استعمار کونکو هیوادو کې هم د خپل نوی اقتصادي سیاسي جوړښت د نور پر مختګ پر بنأ داسې کیڼ لاس او چپ ګوندونه او غورځنګونه فعال دي چې د هر ډول ظلم ، استعمار او امپریالیستي انحصاراتو پر ضد مبارزه کوي او د یوې طبیعي پدیدې په څیر پر مخ ځي او انکشاف کوي . د مثال په توګه ، د جرمنانو ( بلر مینهاف ) دیوه داینهك سازمان په څیر ، د جاپان ( سره لښکرې ) دا لویانو (سپاهیان ) دپیرو د انقلابیونو ( روښانه لار ) د فرانسویانو ( مستقیمه لار ) اوداسې نورهغه

سازمانونه دی چی د خپلو اولسونو دحقوقو او ارمانونو په خاطر یې مبارزی لرلې او د مبارزو د مختلفو ډولونو څخه یی استفادی کړی او ټولو ډول ډول تاکتیکونه ( کله سم خو کله نا سم ) استعمالوی . اما خبره دا ده چی د بوش اداره به دغه ډول سازمانونه هم ځکه تروریستی وبولی چی هغوی د مبارزو د خشونت څخه ډك شکلونه هم نه رد وی ، د دې خبری یادونه هم په کار ده چی د نیپال د پاچاهی پر ضد دهغه ځای انقلابیون چی ځانونه مائوستان بولی قهر آمیز او خشونتڅخه ډکی مبارزی کوی اود هغه ځای دولتی مقامونو ته یی ستر تاوانونه په بیلو بیلو وختونو کی رسولی او رسوی یې ، نوموړی مائوستی مبارزین چی د خپلو مبارزاتو یو اوږد تاریخ لری ، تل به د دولتی واکدارانو له خوا د مائوستانو او کمونیستانو په نامه خطاب ورته کیدی ، خو کله چی په دی وروستیو کلسیزه کی «ډبلیو بوش » خپل عمده دښمن ته د تروریست نوم کښیښود نو دنیپال دولتی واکدارانو هم د دی له پاره چی د خپل غلیم په مقابل کی ځان د امریکایی پالیسی پرڅنګ وګوری ، نویی نوموړی مائوستی سازمان تروریست وباله . دی نوی نوم ایښودنی نه دا چی د دوی مبارزه د دولت پرضد ارامه او نرمه نه کړه ، بلکه نوره یی هم شدیده او دولتی مؤسسات یې تر پخوا لا زیات تر ضربی لاندی وروستل او تلفات یی ډیر پر وارد کړل ، وروسته له ډیرو دښمنیو او خرابیو دولت د ارامی د تآ مین په خاطر د مائستانو سره تفاهمات پیل کړل او د تروریست نوم یی بیرته په مائست سره واړواه او په نتیجه کی یی مهمی موافقی او مفاهمی سره امضا کړې (۱۱) او د جنك شدت کمبود وکړ . د نوموړی خبر توضیح یې ځکه وکړه چی د تروریزم کلمه د امریکایی واکدارانو له پاره د تجاوز په خاطر یو شعار دی او بل دا چی مائستان او داسی نور مبارزین چی په کومه عقیده او ایدیالوجی وی په هغه ویاړی او افتخار په کوی ، بله خبره دا هم ده چی دبلیو بوش نوموړی ز ړه او ډیره چلیدلی مقوله ( تروریزم ) د خپلو تجاوزاتو او اشغالولو په خاطر رامینځ ته ، او استفاده ځینی کوی ، څو ملکونه ونیسی او ثروتونه تصاحب کړی ، مرګونه وکړی او د « کولن پاول » په عقیده چی هر څوك د دوی مخالفت کوی هغه باید له منځه ولاړ شی . وګوری څومره عالی منطق او څومره والا د بشر حقوق !

## نتیجه .

ترور او تروریزم چی اوږد تاریخ لری د بیری ، وژنی اختطاف او ازارولو یوه داسی ناوړه او د خشونت څخه ډکه پروسه ده چی ډیر وختونه حاکمو طبقو او ظالمو دولتونو استفاده ځینی کړی او کوی یې ، خو دمظلومو او محرومو طبقو او اولسونو نماینده ګانو هم د خپلو معقولو او یا غیر معقولو ګټورو او یا تاوانی هدفونو د پاره نوموړی وسیلی استعمال کړی او استعمالوی یې ، په معا صر تاریخ کی امپریالیستی دولتونو او قدرتونو په سر کی یې امریکایی انحصاراتو نوموړې شومه پدیده د خپلو مخالفینو د ټکولو په خاطر ډیره زیاته په کار اچولی ده . البته څومره چی نن ورځ امریکایی واکداران پر ترور او تروریزم حملې او انتقادونه کوی ، خو په هغه اندزه یی نه په توضیح کولو کی بحث کړی او نه یې هم د هغه پر علتونو باندی څه ویلی دی . امریکایی سیاستمدارانو دا خبره سمه نده روښانه کړی چی تروریستان ولی زیاتر ه او خاصتاً پر امریکایی ګټو باندی واړونه کوی؟ په هم دې توګه داهم په زړه پوری ده چی نوموړی وکداران په اسلامی هیوادونو کی ترورونه زیات بولی او فورا یې د القاعدی په سازمان پوری تړی خو مهمه دا هم ده چی د القاعدې د سازمان پر ډول ، دهغه پر اصولو ، هدف ، تاسیس او داسی نورو هغو موضوعاتو یې کوم بحث نه دی کړی په کومو چی نوموړی سازمان په خپلو جهتونو کی پیژندل کیدای شی ، ښایی دلیل هم دغه وی چی دتناو سره د همدغو بین ا لمللی واکدارانو په لاس کی و ، څو اوس به یې د لاسه خطا شوی وی .

امپریالیستی انحصارات د خپل تجاوز کارانه او ناوړو عملونو په واسطه دا چی بری ته نه شی رسیدی بلکه .ورځ په ورځ یې په ملی او بین المللی سطحه کی مخالیفین او دښمنان داسی ډیریږی چی تروریزم نوی شکلونه او

ډولونه ورته رازيږوي او ډير بيده قوتونه چي د تروريزم پر پراتيك حتا عقيده نه لري ، د خوبه راپاڅوي، تروړمخه وراړوي، مقاومت كولو ۍ انتقام اخيستلو ته يې اماده او د امريكايانو په مقابل كي يې قربانيو ته تياروي . ټول هغه اولسونه او غورځنگونه چي د خپلو تاريخي وياړنو او فرهنگونو دفاع كوي او په وياړي ، په هره ټولنه او د پر مختك په هره مرحله كي چي وي ، د هغوی ادامه غواړي اود نويو غر بی فرهنگي چارو ټول هغه نوی غربزده خصوصيات مردود بولي كوم چي د خپلو آزاديږگانو او كلتورونو د كلي اصولو سره مخالف او بيگانه گڼي .

ډيره روښانه او ښرگنده خبره خو دا ده چي يو لږ كمزوره او واړه آزادی بخښونكي قوتونه او غورځنگونه چي د سترو استعماري او تيری كونكو دولتونو په مقابل كي دخپلو ځانونو او اولسونو د ساتلو او پر مختك په خاطر دمنظمو جنگونو توان نه لري ، نو مجبور دي چي يا چريكي جنگونه په هر شكل چي وي او يا هم تروريستي اعمال او حملې په هر ډول چي كيدای شي پر مخ يوسي او ادامه وركړي . ومو ليدل چي د تيری پيړی په اتيايمو كلونو كي د لبناني مبارزينو د بمونو چاودولو ، د موټرانو تخريب كولو او داسي نور د خشونته ډك فعاليتونه اساساً هغه عكس العملونه وو چي دلبنان خلكو د اسرائيلو د تيريو په مقابل كي په بيلو بيلو وختونو او ډول ډول ځايونو كي استعمال كړل . لبناني اولس ځان ته حق وركوي چي ووايي : «مور بله چاره نه درلودله .»

په همدې توگه ، كله چي اسراييل په ټانكونو ، راكټونو درنو او وحشيانه جنگي وسايلو د فلسطين پرخاوره او هيواد ورننوزي ، كورونه يې ور تخريب ، خلق او ملی مبارزين يې ور وژني او مځكه يې اشغالوي ،د نړی استعماری هيوادونه په سر كي يې امريكايي واكداران د همدغو ټولو ذكر شوو جنايتونو دفاع كوي،نه يې تروريست بولي اونه يي هم د جنگ مجرمين گڼي ، خو بر عكس-كله چي د فلسطين قهرمان ملت دهمدغو ياد شوو جنايتونو په مقابل كي خپل تنكي ځوانان قرباني ته اماده او د ځان دفاع كوي ، خپل فرهنگ او مذهب ساتي ، د ناموس او خاوری ساتنه كوي ، د خپلو نيكونو پت او ننك پر ځای كوي او د جنگ په ډول ډول شكلونو او طرزونو ډښمن ايستلو ته مجبوره وي ، خو بيا هم امپرياليستي تبليغاتي پراخ ماشينونه په ډيره وحشي توگه نوموړی مظلوم خو قهرمان ملت تروريست بولي ، خبره د انصافه ډيره لري ده .

په همدی ډول بايد وويل شي چي عراقي قهرمان ملت تروريست بللل او بيا تيری او تجاوز پر كول ، اساساً د استعماری ضد اعمالو پټول او پر واقعي ترور او جنايتونو باندی توره پرده اچول دي . دا هم ځكه چي د عراق د قهرمان ملت دولت چي دملگرو ملتونو د چارتر يو فعال غړی دی ، نه يوازی يې مخ پر انكشاف هيوادونه حمايه كوی بلكه د اروپايي اتحاديې اكثريت غړيو هم چي په فرانسوی او جرمني دولتونو سره رهنمايي كيږی د هغو پوره ملا تړ كړی او كوي يې . البته د دې خبری ياد هم په كار دی چي د الماني اوسني كلك ضديت چي د ډبليو بوش د اداری له خوا يې هيڅ تصور نه كيد ی ، اوسني ښرگنده هغه غوښتنه بلله كيدای شي چي د ناتو تړون اود امنيت شورا په خپل دننه كي،بې اتفاقيو او پاشلو سره مخامخ كړی او مخامخ كوي يي .

د ترور او تروريزم د مفهوم او تاريخ د ژوری مطالعې او څيړني په نتيجه كي سړی دې قضاوت ته رسيږی چي ترور په خپل ذات كي د مستي،او خوبنې يوه پروسه نه ده بلكه يو داسي د جنگ وحشي او درد ناكه آله ده چي د تاريخ په اوږدو كي قدرتمندانو د خپلو مخاليفينو د ټكولو په خاطر زياته استفاده ځيني كړی او كوي يې .

ليری نه ده چي په دغو اوسنيو امريكايي ـ انگليسي تروريستي اعمالو ، تباه كولو او خرابولو كي چي د عراق پر ملت او خاوره ، د تيلو د سرشاره ذخيرو د نيولو په خاطر انجاميږی ، تجاوز گران په نظامي لحاظ بری تر لاسه كړی ، خو په سياسي او اخلاقي لحاظ به هميشه د شرم او ماتی سره مخامخ وی . نوموړې خبره په هيڅ ډول دامعنا نه لری چي گواكي اولسونه يې تسخير كړل او يايې تسخير ولای شي ، بلكه برعكس ، نړيوال انقلابي غورځنگونه او ملتونه يی په مقابل كي ، بلاخره داسي را پورته كيږی چي بايد ژر تر ژره خپله واقعي آزادی او خپلواكي واخلي او امپرياليستي كړی،به يوه په بلي پسې ماتي كړی .

داخبره هم باید هیره نه کړو چې امپریالستي انحصارګران ناتویي غړی ، ښایي ډیر ژر د امریکایي ـ انګلیسي ترون د ظلم او تجاوز په نتیجه کې نړیوالو ثروتونو او نژادونو په سیمو سره وویشي او هم به د نړی والي موٌسسې غړی په خپلو مینځونو کې نور هم داسې سره بې اتفاقه کړی خو یو او بل په مخالفو سنګرونو کې د نه پخلا کیدونکو دښمنانو په شان سره مخامخ شي . په هم دی توګه ، لیری نه بریښي چې د جهان د طبیعي ثروتونو او بازارونو د ویشلو او تسخیر ولو پر سر په تیری کونکي او متجاوزو دولتونه او طبقات یو داسې وحشیانه او جهان سوځونکې جنګ پیل کړی چې د انشتاین په قول « په دریم جنګ نه پوهیږم ، خو راته څرګنده ده چې څلورم عمومي جنګ به په لرګو او ډبرو وی. »

کله چې د امریکایي انحصاراتو تجاوز کارانه فعالیتونه نړی د نوموړی ډول وحشتونو سره مخامخ کړی نو بیله شکه چې د بوش تروریستي ـ ضد مبارزه د امریکایي امپراتورۍ په خاطر د خپریدلو او انکشاف کولو په خاطر څکه پر مخ نه شي تلای چې د جهان زحمتکښ او مترقي اولسونه ، مترقي ګوندونه ، ازادي بخښونکي ملتونه او غورځنګونه او یو لړ کپتالیستي هیوادونه د بوش ـ بلیر تروریستي فعالیتونه په سخت غندی او پر ضد به یې وجنګیږی ۰ نو څکه وایو چې د بوش تروریستي ـ ضد مبارزه د امریکایي امپراتورۍ د پراخولو په خاطر یوه شومه بهانه او ناکامه وسیله ده .

اخځلیکونه ، مأ خذونه


1. The oxford English dictionary volum X1 , geat Brtania 1961 , P. 216

2. P. 216 همدغه اثر

3. The new encyclopidia brittanica volum 11 primted in usa 1998 P. 650

4. P. 651 همدغه اثر

5. P. 651 همدغه اثر

6. The encyclopidia Americana volum 26 printed in usa 1997 P. 522

7. Opposing view points , terorism , coptright 1986 , greenhaven press I nc , P. 96

8. P. 97 همدغه اثر

9. P. 97 همدغه اثر

10. P. 97 همدغه اثر

11. Metro january 30 , 2003 Canada P. 2

12. toroto, 2002 هفته نامه شهروند

13. Fragile Freedoms, thomas R . Berger 1982 ,Canada


جون، ۲۰۰۳